حبيب وقار ۲۰۰۹/۱۱/۱۲م

# لويديځ ولسونه او افغان جګړه

هره ورځ د برتيانيي هېواد يوې مور ته د خپل زوی جنازه اېښودل کېږي او برتانوی مور د خپل زوی په مړينه اوښکې تويوي، او دا هيله څرګندوي چې کاشکې يې د افغانستان ناپايه جګړې ته نه وای لېږلی. دا ځکه چې برتانويان دا نه مني چې الله پيداکوونکی او فنا کوونکی دی. هغوی په هر څه کې خپله توان ته ډېر اهميت وکوي. او له خپل توان سره سم کار کوي. هو مرګ او ژوند د الله له خوا نه بولي بلکي د ژوند يوه پېښېدونکې پېښه يې بولي.

له همدې امله اوس په برېتانيا کې د افغانستان د جګړې د برياليتوب په اړه د خلکو باور مخ په کمېدو دی او له يوې تازه نظر پوښتنې سره سم په هلمند کې د تېرې سې شنبې په ورځ د يوه افغان پوليس له لوري د پنځو برېتانوي سرتېرو له وژل کېدو سره دا بې باوري خورا زياته شوې ده.

دوی په هلمند کې د يوه پوليس له لاسه د برتانيي د پنځو سرتېرو مړينه د خواشينی تر څنګ له افغانستان څخه د برتانوي سرتېرو د ايستلو هيله لري.

دا نظر پوښتنه چې د برېتانيا ځلورم خبري چينل ترسره کړې او تازه خپره شوې ښيي، چې په سلو کې اووه پنځوس برېتانويان فکر کوي چې برېتانوي ځواکونه د افغانستان په جګړه کې بريالي نه دي او برياليتوب ممکن هم نه دی.

د هلمند تر پېښې مخکې، يوازې دوې اوونی د مخه په يوه بله نظر پوښتنه کې اته ځلوېښت سلنو پوښتل شوو کسانو دې ته ورته نظر درلود، خو ځيني يې بيا د جګړې په برې باور لري.

په نوې نظر پوښتنه کې په سلو کې پنځه دېرش تنو پوښتل شوو ويلي، چې له افغانستان څخه دې برېتانوي پوځيان ووزي حال دا چې دوې اوونی د مخه له افغانستان څخه د ځواکونو د ايستلو پلويان په سلو کې پنځه ويشت و.

په سلو کې اته دېرشو ويلي، چې دوی له افغانستان څخه د خپلو ډېر شمېر ځواکونو د سملاسي ايستلو غوښتونکي دي.

يوازې په سلو کې شلو ويلي چې د دوی په باور بايد برېتانوي ځواکونه په افغانستان کې پاتې وي. دوې اوونی د مخه د دې نظر د پلويانو کچه په سلو کې نهه ويشت وه. چې اوس د هغې په کچه ډېره لوړه شوې ده. که چېرې په همدې ډول د دوی په کچه کې ډېروالی راشي نو لرې نه ده چې ډېر ژر به برتانويان اړ شي څو خپل ځواکونه له افغانستان څخه وباسي.

خو دا يوازې برېتانيا نه ده چې نور په افغانستان کې د خپلو کسانو شتون نه مني او له دې وېره لري چې سرتېري يې په بې ځايه توګه مړه کېږي. بلکي کاناډا هم ورته دريځ لري د کاناډا هېواد غواړي چې د ۲۰۱۱ کال له راتګ وړاندې له افغانستان څخه خپل پوځيان وباسي.

د تېرې جمعې په ورځ د کاناډا کانويسټ نيوز اژانس د دفاع وزارت د چاروکو له خولې ويلي وو، چې د هېواد لوی درستيز جنرال والټر ناتينيزک له افغانستان څخه د کاناډايي سرتېرو د ستنېدو پر اړه په يوه پلان کار کوي.

کاناډا افغانستان کې شاوخوا۲۸۰۰ پوځيان لري، چې زياتره برخه يې د هېواد په سويلي نارامه ولايتونو کې مېشت دي.

وړاندې د کاناډا لومړي وزير سټيفن هارپر په تېر سپټمبر کې واشنګټن کې امريکايي پوځي مشرانو ته ويلي وو، چې هېواد يې افغانستان کې خپل پوځي ماموريت پای ته رسول غواړي.

د ويلو ده چې له ۲۰۰۲ کال راپه دې خوا په افغانستان کې ۱۳۳ کاناډايي پوځيان وژل شوي.

له بلې خوا د برېتانيا لومړي وزير ګوردن براون هم ويلي که چېرې افغان ولسمشر حامد کرزی په خپله اداره کې د فساد پر ضد مبارزه ګړندی کړي، نو برېتانيا به دغه هېواد ته نور سرتېري هم واستوي. ګوردن براون دغه څرګندونې د روان کال د نومبر په شپږمه، کړې دي.

نومړي دغه راز زياته کړې: ((تر هغه چې د پاکستان او افغانستان له خوا برېتانيا ته متوجه ترهګريزې ګېنې نه وي وچې شوې، موږ بايد له دغه هېواده ونه وزو او نه به دا کار وکړو. ))

د برېتانيا لومړي وزير دا هم ويلي، د کرزي پنځه کلنه راتلونکې دوره په پنځو اساسي مسايلو کې د ده بريا ځواکمنوي، چې هغه، امنيت، واکمني، سوله، اقتصادي پرمختګ او له ګاونډيانو سره ښې اړيکې دي.

برېتانيا دا مهال په افغانستان کې تر نهو زرو ډېر سرتېري لري، چې زياتره يې په نارامه سويلي ولايت هلمند کې مېشت دي. او تل د يوه ناځوانه مرګ په انتظار شپې سبا کوي. ځکه چې په افغانستان کې دوی ته اوس مهال ماموريت ډېر ستونزمن شوی دی. له يوې خوا دوی له طالبانو سره په جګړه بوخت دي له بلې يې ملي پوليس ژوند ته د پای ټکی ږدي او خپله هم له سيمې څخه په تېښته بريالی کېږي، په داسې يوه غوغا کې د سرتېرو ژوند پرته له دې چې په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

اروايي ناروغۍ بوخت شي نور څه نه دي. نو د برېتانيا ولس په دې نه دی ملامت چې دوی له خپل دولت څخه غواړي څو له دې هېواد څخه خپل پوځيان وباسي او نور د افغانستان جګړې ته د پای ټکی ورکړي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ